# هغه څوک زمونږ څخه ندی چې (د يو څه په ليدلو سره له غيبو) وړاندوينه وکړي او يا ورته وړاندوينه وشي، کوډې وکړي او يا ورته کوډې وشي، جادو وکړي او يا ورته جادو وشي

له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «هغه څوک زمونږ څخه ندی چې (د يو څه په ليدلو سره له غيبو) وړاندوينه وکړي او يا ورته وړاندوينه وشي، کوډې وکړي او يا ورته کوډې وشي، جادو وکړي او يا ورته جادو وشي، او هر څوک چې کوډګر ته ورشي او په هغه څه کې يې ريښتينی وګڼي چې هغه يې وايي، نو پر هغه څه يې کفر وکړ چې پر محمد - صلی الله عليه وسلم - نازل شوي دي".

[حسن] [البزار روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپل امت څخه هغو کسانو ته پدې وينا سره خبرداری ورکوي چې ځينې کړنې يې کړي وي، فرمايي چې: "زمونږ څخه ندي" هغه خلک چې: لومړی: "من تَطَيَّرَ أو تُطُيِّرَ له" دا په اصل کې: د مرغ له الوځولو څخه اخيستل شوی دی چې کله به هغوی په کوم کار او يا سوداګر پيل کاوه نو مرغ به يې خوشې کړه؛ که چېرته به يې ښي لور ته الوتنه وکړه په نيک فال به يې ونيوله او د هغه کار پسې به روان شو چې اراده يې کړې وه، خو که چېرته به يې چپ لور ته الوتنه وکړه، نو په بد فال به يې ونيوله او له خپل کار څخه به لاس په سر شو، نو دا کار د خپل ځان لپاره هم ناروا دی او د بل چا لپاره هم چې دنده ورکړل شي تر څو يې ورته تر سره کړي، او پدې کې هر بد فال نيول شامل دي که هغه اورېدل وي او يا د کوم شي ليدل، له مرغيو، ځارويو، مصيبت ځپلو، شمېرو، ورځو او داسې نورو څيزونو څخه. دويم: له "من تَكَهَّنَ أو تُكُهِّنَ له"څخه مراد دا دی چې څوک چې د ستورو او نورو شيانو په کارولو سره په غيبو د پوهېدو دعوه وکړي، يا داسې چاته ورشي چې د کاهن او داسې نورو په څېر په غيبو د پوهېدلو دعوه وکړي او په هغه څه باور وکړي چې هغه يې له غيبو وايي، نو په هغه څه يې کفر وکړ چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی. دريم: "من سحر أو سحر له" يعنې دا چې څوک په خپله سحر وکړي او يا بل چاته دنده ورکړي چې سحر ورته وکړي؛ تر څو پرې چاته ګټه او يا زيان ورسوي، او يا تار ته غوټه ورکړي او د حرامو دمونو په چف کولو سره پرې جادو وکړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5981

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee